THE WORLD BANK
Working for a World Free of Poverty

مطبوعاتي خپرونه

| اړیکي: *په کابل کی:* عبدالروف ضیاء ۷۰۰۲۸۰۸۰۰ (۹۳)<br>برېښنالیک :azia@worldbank.org<br>په واشنګتن کی: اریك نورا ۴۵۸ ۴۷۳۵ (۲۰۲)<br>برېښنا لیک: enora@worldbank.org | **خبری خپرونه نمبر:**SAR /۲۰۰۷ |
|---|---|

# نړیوال بانك په افغانستان کی د خصوصی سکتور د پراختیا څخه ملاتړ کوی

**واشنګتن، د ۲۰۰۷ کال د فبروری ۲۲ مه-** نن نړیوال بانك افغانستان لپاره ۲۵ میلیون امریکایی ډالرو وړیا مرسته تصویب کړه چې موخه یی په هیواد کی د پانګه اچونی فضاء او د بنسټیز جوړښتونو ښه کول دی.

**د خصوصی سکتور د پراختیا څخه د ملاتړ پروژی په ترڅ کی په پام کی ده** چی مځکنی خدمات او آسانتیاوی لکه، برېښنا ، اوبه او مخابراتی سهولتونه برابر او د دولتی ارګانونو وړوالی لوړ شی ترڅو وکولای شی ورته پروګرامونه ترتیب او پلی کړی. همدا راز دغه پروژه به د دولت او د دولتی ادارو وړوالی اوچت کړی ترڅو دغه اداری وکولای شی افغانستان د پانګه اچونی وړ وګرځوی او پانګه اچونی پوری اړوند خدمتونه برابر کړی.

**د افغانستان لپاره د نړیوال بانك سرپرست، مریم، جی، شیرمن، وایی،** *"افغانستان د یوه پیاوړی خصوصی سکتور پراختیا ته اړتیا لری ترڅو خلکو ته دندی مینځ ته راوړی او وده په لار واچوی. یوه پیاوړی خصوصی سکتور به د اقتصادی ودی، اوږد مهالی سوکالی او اقتصادی بقاء ته لار هواره کړی"*

د خصوصی سکتور وده او پراختیا ته د "افغانستان د مینځ مهالی ملی پراختیایی ستراتیژی" او همدا راز په افغانستان کی د بانك په ستراتیژی کی د ړومبیتوب حق ورکړ شوی دی. حکومت په دی باور دی چی خصوصی سکتور به افغانانو ته د کار زمینی برابری کړی، پداسی حال کی چی حکومت نور دغه ډول کار نشی کولای، او همدا راز په پایله کی به یی پر عوایدو لګیدلی مالیات هم لاس ته راشی او پر روغتیایی، پوهنیز او نورو خدمتونو کی تری کار واخیستل شی.

**د نړیوال بانك د خصوصی سکتور د ودی سلاکار کارپوه او د پروژی سرګروپ ریاض الاسلام** وایی چی په افغانستان کی د خصوصی سوادګریز فعالیتونو زیاته برخه غیر رسمی ده. *"د خصوصی سکتور د پراختیا په اړه تر ټولو ستره ستونزه او چلینج دادی چی څنګه باید د رسمی سوداګریز فعالیتونو لمن پراخه شی او د غیر رسمی چاپیریال څخه د قرارداد پر بنسټ ولاړ د رسمی خصوصی سکتور په لور تګ و هڅول شی"*

دغه پروژه د نورو مرستندویه سرچینو کارونو په داوم او افغانستان سره به مرسته وکړی تر څو خصوصی پانګه اچونی پوری اړوند تر ټولو ستر خنډونه او بندیزونه په ځانګړی توکه مځکنی محدودیتونه او د برېښنا برابرولو پوری اړوند ستونزی، له مینځه یوسی. ددغو ستونزو او خنډونو په له مینځه وړلو سره، دغه پروژه به په مختلفو سکتورونو او په ځانګړی توګه سپك تولیدات، خوراکی تولیدات او قالینونو په اړه خصوصی پانګه اچونی وهڅوی.

ددغی پروژه په ترڅ کی به جلال آباد ته خیرمه د حصار شاهی په سیمه کی صنعتی پارك په جوړیدو کی مالی مرسته وشی. نوموړی پارك به د محلی اقتصاد په وده، د دندو په مینځ ته راوړلو او مالیاتو کچه لوړولو کی مرسته وکړی. همدا رنګه، د افغانستان د پانګي اچوني د ملاتړ اداره او د سوداګری وزارت د وړوالی د کچی په لوړولو کی به هم مالی مرسته وکړی.

دغه پروژه د نورو مرستندویه سرچینو لکه د انګلستان نړیوال پرمختیا اداره، د متحده ایالاتو نړیوال پرمختیا اداره او د المان نړیوال پرمختیا ادارهDFID په همکاری ترتیب شوی ده چی د افغانستان د پانګي اچوني د ملاتړ اداره (AISA) د بشپړ مشرتابه لاندی به په څلورو کلونو کی ترسره شي.

*په افغانستان کی د نړیوال بانك په هکله د زیاتو معلوماتو لپاره دغه ویب پاڼه وګوری*
*http://www.worldbank.org.af*

مهرباني وکړئ ددې پروژې په هکله د لاژياتو معلوماتو د ترلاسه کولو لپاره په لاندنی انټرنټي پته مراجعه وکړئ:
http://www-wds.worldbank.org/external/default/main?pagePK=64193027&piPK=64187937&theSitePK=523679&menuPK=64187510&searchMenuPK=64187283&siteName=WDS&entityID=000104615_20061110143421